ورځپاڼه
مسیر
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د غبرګولي ۲۰مه | د ۲۰۲۰ د جون نهمه | ۵۴۷مه ګڼه

# پاکستاني ناتار او د حکومت چوپتیا؛

## اغزن سیم د افغان پوځ د پوستو څو مترۍ ته رسېدلی دی



۳

### د خلیلزاد نوی سفر، بین الافغاني خبرې، ستونزې او خنډونه

۲ مخ

### د کرونا په اړه د خټیځ فورم د مشر ډاکټر وضاح خنفر په زړه پورې وینا

۲ مخ

### روسیه، چین، ایران او ترکیه له امریکا څنګه پخوانی غچ اخلي؟!

۳ مخ

## سرچینې: ډېر ژر به په دوحه کې د سولې په تړاو بین الافغاني خبرې پیل شي

یوې حکومتي سرچینې د نوم نه ښودو په شرط بي بي سي ته ویلي، د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو لومړی پړاو به په راتلونکو څو ورځو کې په قطر کې پیل شي. سرچینې ویلي چې له هغه مخکې به یو زیات شمېر طالب بندیان خوشې شي.

ویل کېږي چې په افغانستان کې دننه په سیاسي ناستو کې په راتلونکو ورځو کې د حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو د پیل بحثونه هم تاوده دي. یادې سرچینې زیاته کړې چې د دغو خبرو له پیلېدو مخکې به د افغان حکومت لخوا یو شمېر نور طالب زندانیان هم خوشي شي.

په ورته وخت کې د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویانده ناجیه انوري وایي چې د دغو خبرو د پیل، ځای او وخت ټاکلو لپاره هڅې روانې دي.

له دې سره هممهاله د افغانستان د ملي امنیت شورا وایي چې په تېرو دوو ورځو کې لسګونه طالب بندیان په بېلابېلو ولایتونو کې له زندانونه خوشې شوي دي. د اړوند مسوولینو په وینا، دغه بهیر به تر هغه روان وي چې د خوشې شویو طالب بندیانو شمېر تر درې زرو ورسیږي. دوی وایي، د خوشې کولو بهیر پېچلی دی، له همدې کبله د دواړو خواوو تخنیکي ډلو ترمنځ بحثونه روان دي. د یادونې ده چې افغان حکومت تر دې دمه څه باندې ۲۷۰۰ طالب بندیان خوشې کړي، ټاکل شوې وه یوه اونۍ وړاندې ۲۹۰ تنه نور هم خوشې شي. چې ورسره د خوشې شویو طالب بندیانو شمېر درې زرو تنو ته ورسیږي، خو د پاتې ۲۹۰ تنو د خوشې کېدو بهیر لا هم نه دی بشپړ شوی.

## له خلیلزاد سره د بندیانو د ژر خوشې کېدو او بین الافغاني خبر پر پیل خبرې وشوې



۵ مخ

## څېره

۴ مخ

### توماس جفرسون



توماس جفرسون تر ولسمشرۍ مخکې مهم امریکایي ډیپلومات و. دی د امریکا په تاریخ کې دویم مرستیال ولسمشر، لومړنی د بهرنیو چارو وزیر او درېیم ولسمشر دی.

## ترانسپورټ وزارت: تېره اونۍ هېواد ته ۱۱۴ زره ټنه سوداګریز توکي وارد شوي دي



د افغانستان ترانسپورټ وزارت وایي چې په تېره یوه اونۍ کې هېواد ته ۱۱۴ زره ټنه سوداګریز توکي وارد شوي دي.

د دغه وزارت د ویاند مرستیال محمد اشرف حق‌شناس رسنیو ته په یو استولي پیغام کې ویلي چې دا سوداګریز او خوراکي توکي د حیرتان، مزار شریف، اقینې او تور غونډۍ د رېل پټلۍ له لارې هېواد ته وارد شوي دي. په پیغام کې لیکل شوي چې په دې توکو کې غذایي، نفتي او ساختماني مواد شامل دي.

اته زره ټنه غنم، نږدې ۳۸ زره ټنه اوړه، څه باندې ۳ زره ټنه غوړي، نږدې ۳۹ زره ټنه تېل، څه باندې ۱۳ زره ټنه مایع ګاز او له نهه زره ټنه ډېر ساختماني مواد، هغه توکي یاد شوي چې په تېره اونۍ کې افغانستان ته وارد شوي دي.

په دې وروستیو کې په افغانستان کې د لومړنیو خوراکي موادو بیې لوړې شوې دي. د اقتصادي چارو پوهان وایي چې هېواد ته د خوراکي موادو واردېدل د بیو په ټیټېدو کې مثبت رول لري.

## خانواده‌های قربانیان کرونا: به علت نرسیدن به موقع اکسیجن اعضای خانواده ایشان جان باختند



اعضای شماری از خانواده‌های قربانیان ویروس کرونا می‌گویند که علت بیشتر مرگ و میر بیماران نرسیدن آکسیجن بوده است. این خانواده‌ها شمار داکتران و کارمندان صحی را در شفاخانه‌ها اندک می‌دانند و از کمبود آکسیجن و دارو در این شفاخانه‌ها خبر می‌دهند. وزارت صحت عامه نیز تأیید می‌کند که شفاخانه‌ها در روزهای اخیر با کمبود آکسیجن رو به رو بوده اند. تازه ترین رویدادهای ثبت شده وزارت صحت عامه نشان می‌دهند که شمار رویدادهای تأیید شده ویروس کرونا در کشور نزدیک به بیست و یک هزار رسیده است.

در عین حال شماری از اعضای خانواده‌های قربانیان این ویروس می‌گویند به علت نرسیدن به موقع آکسیجن اعضای خانواده ایشان جان باختند. آنها می گویند که نتوانسته است بالون‌های آکسیجن را به مریض اش برساند، از همین رو او را از دست داد. می‌گویند هنگامی که بالون‌های اکسین به شفاخانه می‌رسند بیمار داران باید خود شان بالون‌ها را از موتر پایین کنند و به اتاق بیمار ببرند.

وزارت صحت عامه می‌گوید که به علت افزایش بیماران در سه روز گذشته با کمبود آکسیجن در شفاخانه‌ها روبرو بوده اند، اما تلاش دارند این مشکل حل شود.

وحیدالله مجروح، معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت عامه گفت: «در این اواخر شفاخانه علی جناح و افغان جاپان به کمبود آکسیجن در یک یا دو ساعت روبرو بودند، وزارت صحت عامه تمام شرکت‌های که تولید آکسیجن دارند با انان صحبت کرده که ظرفیت تولید شان را بلند ببرند.»

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos
کابل دریيمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریــځ

### د خلیلزاد نوی سفر، بین الافغاني خبرې، ستونزې او خنډونه

لـه قطـر او اسـلام ابـاد وروسـته بـه خلیلـزاد پـه کابـل کـې لـه چارواکـو سره د بیـن الافغـاني مذاکراتـو پـر پیـل خبـرې کـوي. تـاکل شـوې چـې دا ځـل بـه خلیلـزاد لـه حکومت څخـه جدي وغواړي چې تـر پنځو زرو طالب بندیان ژر خـوشي کـړي، د مصالحـې شـورا تکمیـل کـړي او د خبـرو لپـاره خپـل پـلاوی ژر تـر ژره تیـار کـړي. تـر دې وړانـدې خلیلـزاد پـه قطر کـې لـه طالبانـو غوښـتي چـې تاوتریخوالی لا زیـات کـم کـړي او بیـن الافغاني خبرو تـه تیار شي.

تـاکل شـوې وه چـې د جـون پـه ۱۵مـه بیـن الافغـاني خبرې پیل شي، خو ځیني سـتونزې د دې سـبب شـوې چـې دا خـبرې وځنډېږي. د طالبانـو لـه خـوا پـه ټینـگار سره ویـل کېدل چـې د دوی پنځـه زره بندیـان بایـد خوشي شي او پـه تـاکل شـوي پـلاوي کـې بدلـون راشي. حکومت بیـا بندیـان نه خوشـې کول، د مصالحې عالي شـورا همداسـې نیمگړې ده او د دې ترخنـگ پـه حکومت کـې د سـولې پـه تـړاو واحد دریځ نشـته، چـې دا ډول د بین الافغـاني خـبرو د پیـل پـه برخه کـې د سـتونزو سـبب شـوي دي. کـه څـه هـم خلیلـزاد بـه هڅـه وکـړي چـې ټـول اړخونه پـه همدې جون میاشـت کـې خـبرو تـه حـاضر کـړي، خـو بیـا هم سـتونزې شـته. د طالبانو له اړخه سـتونزې پـر خپـل ځـای، خو پـه حکومت کـې دریځونه داسـې دي چـې کـه خـبرې پیل هـم شي، له سـتونزو سره بـه مخ وي. حکومت خـبرو تـه پـلاوی لېـږي، خـو د پرېکـړې صلاحیـت نـه ورکـوي. کلـه چـې مذاکـره کوونکـی پـلاوی د پرېکـړې صلاحیـت ونـه لـري، نـو دا چـاره پـه طبیعي ډول د سـتونزې سـبب کېـږي، خبرې بـه لـه لانجـو سره مخ وي او پایلـه به یـې ورکه وي. د سـولې پـه برخـه کـې پـه حکومـت کـې د تصمیـم نیولـو میکانیزم هم لا پېچلی شـوی دی. د سـولې چاره به د مصالحې عالي شـورا مخ تـه وړي او ټـول کارونـه بـه دا شـورا کـوي، خـو سر لـه اوسـه د مصالحـې شـورا پـر ځـای تـر ډېـره پکـې ارگ او امنیـت شـورا مهـم گڼل کېـږي. پـه دې ډول بـه کاري تداخل وي او دا چاره د خپلمنځـي سـتونزو سـبب گرځـي. لـه بلـه اړخـه کـه د مصالحې عالي شـورا د سـولې پـه تـړاو کومـه پرېکـړه کـوي، دا پرېکـړه بـه بیا هـم هغـه مهـال نهایـي وي چـې ولسـمشر یـې ومنـي. د سـولې پـه اړه د ولسـمشر غنـي او عبداللـه عبداللـه ترمنـځ لـه پخوا څخـه متفـاوت دریځونـه وو. داسـې ښـکاري چـې لـه دې وروسـته بـه هـم د دریځونـو دا تفـاوت او اختـلاف وي. پـه دې ډول د سـولې پـه تـړاو د پرېکـړې لـه سـتونزو او لانجو ډکـې وي او دا چاره بـه د بیـن الافغـاني خـبرو د پیـل او بیـا بریـا پـه برخـه کـې خنډونـه جـوړوي.

لـه بـده مرغـه ښـکېل لـوري لـه خپلـه اړخـه کـوم نوښـت او سـوله ییـز تحـرک نـه کـوي. دوی د دې پـر ځـای چـې خپلـه گام واخلـي، د خلیلـزاد او امریکایانـو اوامـرو او هدایاتـو تـه پـه تمـه دي. دا چـاره د دې سـبب شـوې چـې هر څـه د امریکا په لاس کـې وي، جگـړه وغځېږي او د بیـن الافغـاني خـبرو د پیـل او بریا په برخه کـې سـتونزې او خنډونـه زیـات شي.

# د کرونا په اړه د ختیځ فورم د مشر ډاکتر وضاح خنفر په زړه پورې وینا

ژباړه: حمید محمدشاه

**درېیمه برخه:**

**د نوې نړۍ زېږون!**

هغـه نـړۍ چـې مـوږ پېژندلـه، هغـه اوس لـه منځـه ولاړه، ډېـر ژر بـه نـوې نـړۍ وزېږېـږي، نړیوالتـوب اوس لـه ځپونکـي گـواښ سره مخ دی، سرحدونه تړل شـوي او نړیوالتـوب ختمېږي.

نړیوالتـوب پـه پیـل کـې اقتصـادي و، بیـا ټکنالوژیـک او کلتـوري شـو، نـن ورځ لـه انسـان را وروسـته اقتصـاد د کرونـا ویـروس سـتر قرباني دی، انسـان مري او ځورېـږي، سره لـه دې چـې د مړینـې کچـه دومـره لـوړه هـم نـه ده، خـو لـه مرگـه ډار اوس د انسـانانو سـتره سـتونزه ده.

اوس سـتر گـواښ اقتصـادي دی، انسـان نـن ورځ بـې سـارې اقتصـادي سـقوط گـوري، نړیـوال اقتصاد په تېرو څو کلونو کـې لـه ترینگلي حالتـه راوتـی و، مـوږ د نوي نړیـوال اقتصادي کړکېچ اټکل کړی و چـې رامنځتـه کېـږي بـه، خـو هېچـا دا اټـکل نه و کـړی چـې دومـره ژر او هغه هم د ویـروس لـه لارې.

نـن ورځ د نړیوالـو بازارونـو ونډې هغـې درجـې تـه رسـېدلي، چـې یـوازې پـه تاریخـي کړکېچونـو کـې بـه یـې سـاری لیـدل کېـده، اوس بازارونـو د ۱۹۲۹ او ۲۰۰۸ ز کلونـو پـه څېر زیـان لیدلی دی.

ډېری اقتصادپوهـان پـر دې بـاور دي، هغـه څـه چـې اوس روان دي، دا لـه هغـه ډېـر بـد دي چـې پخـوا پېـښ شـوي وو، لامـل یې دا دی چـې نړیوال اقتصاد اوس د بـل هـر وخـت پـه پرتلـه پـر نړیوالتـوب او د مرکـب اتصـال پـر حالـت ډېـره لگولـې ده، اوس ټـول یـو لـه بـل اغېزمنېـږي، لـه کومـې ورځـې چـې دا کړکېـچ پـه چیـن کـې رامنځتـه شـوی، د نړۍ پـه نـورو برخو کـې بازارونـه تـرې اغېزمـن شـوي دي.

د تېلـو بـازار هغـه مهـال مخ پـر ځـوړ او کاواکـه شـو، چـې چینایانو خپلـې فابریکې وتړلـې او تېلـو تـه نـوره اړتیا نه وه، وروسـته بیـا ولیـدل شـول چـې تېل د هـرې ورځـې پـه تېرېـدو خپـل نـرخ لـه لاسـه ورکـوي. پـه تېـرو کلونـو کـې د تېلـو نرخونـه تر ۲۸ ډالـرو راښـکته شـوي وو، خـو اوس د کرونا ویـروس لـه کبلـه ۲۰ ډالـرو تـه راښـکته شـوي دي.

**لومړنـی تـاواني، وروسـتی گټیالـی؛ د اقتصـاد بیا غوړېدل!**

چیـن پـه ټولـه مانـا سـخت زیـان ولیـد، خـو لـه نـورې نـړۍ بـه لومـړی ژر روغ او اقتصـاد بـه یې بیا وغوړېږي، د نورې نړۍ پـه پرتلـه به د چیـن د ودې کچه ډېره ښـه وي، د اروپـا او متحـده ایالتونـو پـه پرتله د چیـن اقتصادي ځواک ډېـر دی او لاملونه یـې هـم دوه دي:

لومـړی؛ پـه چیـن کـې حکومـت د یـوه گونـد دی، مرکـزي حکومـت پـه ټولـه مانا د خلکـو پـر ژونـد او برخلیـک واکمن دی، اروپایـي هېوادونه بیا داسـې نه دي، هلته د ژونـد بڼـه لـه چیـن سره توپیـر لـري.

دویـم؛ د چیـن سـوداگري او صنعـت، چې اوسـمهال زیانمـن شـوی، نـړۍ ورتـه اړتیا لـري. اوس چینایي فابریکـې بېرته فعالې شـوې، نـږدې ۹۰٪ فابریکـو تولیدات پیل کـړي دي.

پـه راتلونکـو ورځـو کې به چینایـي اقتصاد دوه کاره وکـړي؛ لومـړی به گـردې نړۍ ته هغـه څـه صادروي چې اړتیـا ورته لـري او دا بـه د پخـوا پـه پرتلـه زښـت زیات وي؛ لکـه، طبـي وسـایل، ماسـکونه، تنفسـي وسـایل او نـور... . نـړۍ بـه پـر چینایـي فابریکـو یرغل وکـړي او د اړتیا وړ توکي به ورڅخـه رانیسـي.

چیـن بـه دا مهـال دوې موخـې تـر لاسـه کـړې وي:

لومـړی- اقتصـاد بـه یـې وغوړېـږي او د نـړۍ پـه کچـه بـه یـې خپـل سـتراتېژیک مقام بېرته تر لاسـه کـړي او د هغو دولتونو پـه کتـار کـې به ودرېـږي، چـې وده کوي. کـه وده ونـه وکـړي، اقتصاد به یـې کاواکه شي او دا یـې سیاسـي نظـام لـه گـواښ سره مـخ کـوي، د همـدې لپـاره چیـن بـه ډېـر ژر لـه اقتصـادي اړخـه وغوړېـږي.

دویـم- چیـن به هڅه وکړي چې یو شـمېر هېوادونـه راخپل کـړي او له ویروس سره د مقابلـې لپاره یې لـه تجربو او وړتیاوو گټه واخلي.

چیـن اوس مـخ پـر رغېـدو دی، دا ډېـر مهـم خبـر دی، خو پر دې نـه پوهېږو چې کله به په بشـپړه توگـه تولیدات پیلوي او څرنگـه بـه یـې دا تولیـدات نورې نـړۍ تـه رسـوي؟

**اروپا، اقتصادي کړکیچ، نژاد پالنه**

ټولـو تـه څرگنـده چـې اروپـا لـه سـخت کړکېـچ سره مخ ده، مـوږ پوهېږو چې اروپا لـه اقتصـادي سـتونزو سره لاس او گرېوان ده. تر اوسـه د ۲۰۰۸ ز کال مالي کړکېچ اغېـز نـه دی ورک شـوی او اقتصـاد یې نه دی غوړېدلی.

یونان، ایسـلنډ، ایټالیا، پرتگال او هسپانیا بیـا لـه سـتونزو سره مـخ دي، پـه ځانگړې توگـه ایټالیا، هسـپانیا او فرانسـه، چې هر څه یـې تړلي دي. د اروپا سـویل د شـمال پـه پرتلـه ډېـر زیانمـن دی، د بېلگـې پـه توگـه، د سـویلي اروپـا د نـورو هېوادونو په پرتلـه جرمني پر وضعیـت ډېر واکمن دی، همـدا راز د شـمالي اروپـا پاتـې هېوادونـه د خپـل پیـاوړي اقتصـاد، ټولنیز سیسـتم او د ټولنیـز پانگواگي سیسـتم لـه کبله یو څه واکمـن دي.

هغـه بېـوزلي چـې مـوږ د تېـرو کلونـو پـه پیـل کـې لیدلـې وه، اوس به نوره هم زیاته شي. کېـدای شي د یـورو پـه سـیمه کـې د نظـام پـه ړنگېـدو تمامـه شي، پـه اروپـا کـې بـه د نژادپالنـې نـوې څپـه رامنځتـه کـړي؛ ځکـه لـه ۲۰۰۸ ز کال راهیسـې پـه اروپـا کـې د کډوالـو لـه کړکېـچ را وروسـته نژادپالنـه زیاتـه شـوې ده. سـخت دریځـه ښـي اړخـه گوندونـه د ودې پـه حـال کـې دي او پـه ځینـو هېوادونـو کـې یـې حکومتونـه نیـولي دي. نـن ورځ مـوږ گـورو چـې د ویـروس پـر مهـال او لـه دې وروسـته د نژادپالنـې څپه رامنځته شـوې ده، د سرحدونـو تـړل لـه اقتصـادي رکـود سره تـړاو لـري، ټـول خلـک بـه لومـړی د ځـان پـه اړه فکـر کـوي بیـا د نـورو پـه اړه. اروپایـي خواخوږي اوس لـه منځه تللې او پـر ځـای یې نژادپالنـه مخ پر زیاتېـدو ده. اوس بـه دا غږونـه اورو چـې ایټالیا لومړی، هسـپانیا لومـړی او یونـان لومـړی .... دا ډول اوازونـه او چیغـې بـه د اروپایـي تـړاو پـر حسـاب وي.

لـه اقتصـادي زیان وروسـته د روان کړکېچ دویـم اغېـز د نـړۍ پـه مختلفـو برخـو پـه ځانگـړې توگـه پـه اروپـا کـې د نژادپالنې څپـه ده چـې راپورتـه شـوې ده. دا پـر موږ د مسـلمانانو پـه توگـه هم اغېـز لري؛ ځکه اسـلامي نـړۍ لـه اروپـا سره اړیکـې، راشـه او درشـه لـري، هلته مسـلمانان د لږه کیو/ اقلیتونـو پـه توگه ژونـد کوي.

**نوې برخلیک ټاکونکې پوښتنې!**

نـړۍ بـه ډېـر ژر د ژوند پـه اړه د نـوو ماناوو پوښـتنو لـړۍ راپیـل کـړي. پـه دې مانـا چـې دیـن، عقیـده او فلسـفه بـه ډېـر ژر د انسـانیت او ژونـد د مانـا او تعریـف پـه اړه خبرې او بحثونـه پیـل کـړي.

اوس خلـک پوښـتي چـې لـه دینـي او انسـاني اړخـه به لـه دې سـتونزې سره څه ډول ژونـد کـوو. پـه ټولـو سـترو سـتونزو او کړکېچونـو کـې دوو بهیرونـو انسـانیت پـه خپـل گـروت/ کنټـرول کـې نیولـی دی؛ چـې یـو یـې انسـاني بهیـر دی او بـل یـې مـادي.

انسـاني بهیـر هـر انسـان تـه پـه مسـاوي سـترگه کتـلي. یو انسـان له بـل هغه سره پـه ټولـه مانـا برابـر حقـوق لـري او مـادي بهیـر بیا وایي، پیـاوړی او ځواکمن یوازې د ژونـد حـق لـري او کمزوری کـه مړ شي، دا نـو د طبیعـت منطـق دی. د( وړ باید پاتـې شي) دا د داروین منطـق دی چې مطلق مـادي هغـه دی.

دا انسـانیت تـه د هېټلـر او سـټالین لـه دریځـه کتـل دي، کمزوری بـه وژل کېده، نـن ورځ هـم پـه شـمالي کوریـا کـې پـه روغتونونـو کـې کمـزوري وژل کېدل، چې دولـت یـې د درملنې له بـاره خلاص شي. ایټالیـا چـې پـه اروپا کـې یـې د پرمختگ Renaissance پېـر راپیـل کـړی و، د SIAARTI مرکـز یـو سـند خپـور کـړی، چـې ډاکترانـو تـه یـې سپارښـتنې کـړې وې، هـر هغـه نـاروغ چـې عمر یـې له ۶۵ کلونـو ډېـر وي، پـر کرونـا ویـروس نـه وي اختـه، خـو بله سـخته ناروغي ولـري، باید روغتـون تـه لـه ننوتلـو منعـه شي(پرېږدې چـې مړ شي). لامل یې دا ښـودلی چې د تنفس وسـایل ډېر کم دي، دا سپارښـتنې د دې لپاره شـوې، چـې روغتیایي کدرونه لـه هغـو اخلاقـي سـتونزو خـلاص کـړي چـې د ناروغانـو د درملنې پـر مهال ورسره مـخ کېـږي. د بېلگـې پـه توگـه، کـه ۱۰۰ ناروغـان راغلـل او لـه طبـي کـدر سره ایله ۲۰ د تنفـس وسـایل وو، لومړیتوب به چا تـه ورکـوي؟ ایا هغـه ځوان بـه ټاکـي، چې د روغتیـا هیله یې شـته، چې روغ به شي او پـه ټولنـه کـې بـه د فعال وگـړي په توگه ژونـد کـوي او کـه هغه بـوډا چـې د رغېدو تمـه یې نشـته؟

دا انسـاني سـتونزه پـه ټولـو وباوو کـې وه، د هغـې وبـا پـه اړه چـې اروپـا یـې ځپلـې وه، تاریخپوهـان لیکـي، کلـه بـه چـې چارواکـي خبـر شـول چـې پلانـی نـاروغ دی، سپارښـتنه بـه یـې وکړه چـې کور یې وتـړئ، د یـاد نـاروغ د کـور دروازه بـه یې د خټـو او تیـږو پـه وسـیله بنـده کـړه او ناروغ بـه پـه خپـل کـور کـې بند شـو چـې هملته مـړ شي او ناروغـي یـې نـورو ته انتقـال نه شي.

نـو دا کلتـور چـې یـوازې ځواکمـن د ژوند حـق لـري او کمـزوری نـاروغ بایـد ومـري، مطلـق مـادي کلتـور دی چـې پـه منځنیو پېړیـو کـې پـه اروپا کـې و، اوس یـې گورو چـې پـه ځینـو اروپایـي هېوادونـو کـې بیا خپـور شـوی دی.

دا لـه اخلاقـي او اسـلامي کلتـور سره ټکر لـري، اخـلاق او اسـلام حکـم کـوي چـې د سـپین ږیـرو او کمـزورو لاسـنیوی بایـد وشي او مرسـته دې ورسره وشي.

لـه مـور او پـلار سره مرسـته پـر اللـه پـاک لـه ایمـان سره تړلـې ده، دا نـو لـه مـادي منطـق څخـه ډېره لـرې خـبره ده. اوس به د نـړۍ پـه مختلفـو برخـو کـې انسـاني او مـادي مکتـب سر راپورتـه کـړي او د دوی ترمنـځ بـه ټکـر رامنځتـه کېـږي.

(مـړي مـو را وباسـئ!) دا هغـه انځـور دی چـې پـه ۱۶۶۴ ز کال کـې پـه لنـدن کـې د تـورې وبـا پـر مهال کښـل شـوی دی. په انځـور کـې هغـه گاډۍ ښـکاري چـې مړي بـه یـې لېږدول، پـر وبـا د اختـه کسـانو پرکورونـو بـه د سـور صلیـب نښـه انځـور شـوې وه او دا لیکل به پرې شـوي وو(الله دې پـر مـوږ رحـم وکـړي!).

پـه رسـمي سـند کـې د وبا لـه خپرېدو سره بایـد څـه وشي؟ هغه سپارښـتنې وې چې یـوه یـې دا وه، نـاروغ بایـد تـر مـرگ پورې پـه خپـل کورکـې پاتـې شي.

**د دیني خطاب نوښت ته اړتیا ده!**

د دیـن دودیـز او میراثـي مفهـوم او رول بـه کمـزوری شي، دینونـه پـه ځانگـړې توگـه عیسـویت، یهودیـت ان پـه دودیـزه بڼـه اسـلام نـه شي کـولای چـې هغـو پوښـتنو تـه ځـواب ووایـي چـې پـه راتلونکـي پړاو کـې بـه ورسره خلـک مـخ شي. د خلکـو اړتیـا بـه هغـه دینـي خطاب ته ډېـره شي چـې عقـل تـه نـږدې وي او دا وړتیـا ولري چـې لـه واقعیـت سره تعامـل او چلنـد وکـړای شي او هغـه بدلـون هضـم کـړي چـې پـه راتلونکـو کلونـو کـې بـه ټـول بشریت گواښـي.

اوس دې تـه اړتیـا ده چـې دینـي خطـاب انسـان لـه اوسـنۍ کچـې ډېـر لـوړ کـړي، مسـلمانان بـه دې تـه د یـوه فرصـت پـه توگـه وگوري چې دودیـز او میراثي خطاب او وینـا چـې د تاریـخ او فرهنگ په کتابونو کـې یې گـوري، یو نړیوال انسـاني خطاب او وینـا تـه لـوړ کـړي چـې پـر ارزښـتونو او د نـوي عصر لـه روان سره جـوړ وي او وبـه کـولای شي چـې نـوې تمدني بېلگه وړانـدې کـړي.

**د حرص تمدن د گړنگ پر غاړه!**

څلـورم ټکی چـې نړیوال انسـاني واقعیت بـه بـدل کـړي، هغـه د نړیوالـې اقتصادي بېلگـې لټـول دي چې له ثبـات او عدالت څخـه برخمنه وي.

ننـۍ اقتصـادي بېلگـه چـې مـوږ یـې گـورو، زمـوږ حـرص دومـره زیـات کـړی او هغـې درجې ته یې رسـولی چې پخوا یې بېلگـه نـه وه او لـه داسـې کړکېچ سره یې مـخ کـړي یو چې پخوا یـې سـاری نه دی لیـدل شـوی.

لـه ۱۹۲۹ ز کال څخـه تـر ننـه مـوږ پـه بحرانـي وضعیـت کـې ژونـد کـوو، خـو حـرص او تمـه مـو هـره ورځ زیاتېـږي ۱٪ انسـانان دومره شـتمني لري چې د ۳.۸ میلیـاردو انسـانانو له هغې سره برابره ده.

دا وضعیـت د تـداوم وړ نـه دی، څرنگـه کـولای شـو چـې د نـوي نړیـوال اقتصـاد لپـاره نـوي فکرونـه را وپنځـوو؟ دا نړیـوال انسـاني بحث دی چې پـه راتلونکـو ورځو کـې بـه لا گـرم شي او هڅـه به کـوي چې دې پوښـتنې تـه ځـواب پیـدا کـړي.

پـه تېـرو ورځـو کـې داسـې مقالـې ولیکل شـوې چـې ټولـو د هـر انسـان لپـاره د اساسـي عایـد فکـر minimum basic income وړانـدې کـاوه، هـر انسـان بایـد دومـره څـه تـر لاسـه کـړي چـې لـه درناوي ډک ژونـد ولـري، دا فکر ډېر پخوا رامنځته شـوی دی، خـو پر دې بریالی نه شـو چې د نـړۍ پـه کچـه خپـور شي، خـو اوس یې پـه اړه خلـک خـبرې کـوي.

پـه دې اړه هـم خبرې کېږي چـې د بډایه او بېوزلـه ترمنـځ بایـد فاصلـه کمـه شي، دا بـه پـه راتلونکـي کـې داسـې فکرونـه راوپنځوي چـې د ازاد بازار، د وال سټریټ، اقتصـادي نړیوالتـوب لـه حـرص سره پـه ټکـر کـې وي، ننـۍ اقتصـاد وحشـي دی او د غمیـزې تـر بریـده رسـېدلی دی. هره ورځ څـو ټنـه خـواړه غورځـول کېـږي، خـو لـه بلـې خـوا پـه میلیونـو انسـانان د خوړو لپـاره څـه نـه لري.

راځـئ فکـر وکـړو، پـه متحـده ایالتونـو کـې چـې د نـړۍ تـر ټولـو بډایه هېـواد د ښـوونځیو شـل میلیونـه شـاگردان کورونو تـه نه شي تللـی؛ ځکه دوی پـر هغه خوړو ژونـد کـوي چـې د ښـوونځیو لخـوا ورکول کېـږي، ښـوونځي تـه د خـوړو لپـاره ځـي.

دا پـه نـړۍ کـې د پرمختللـي هېـواد حال دی چـې هـر کال ټریلیـون ډالـر د وسـلو پـر جوړولـو لگوي.

نـن ورځ انسـانان د لېونتـوب درجـې تـه رسـېدلي، بـې حسـابه پیسـې د اټومـي توغندیـو پـر جوړولـو، د فضـا جگـړې، ان پـر هغـو شیزونو چـې اټکلي، ناخیالـي او ناشـوني دي لگـوي، د لېونتـوب تـر کچـې د جگـړو پـر وسـایلو لگښـت کـوي او دا یې لـه یـاده وتـې ده چـې یو څـه پیسـې کولای شي انسـانان لـه وبـا وژغـوري، مـوږ پخـوا داسـې انگېرلـه چـې یـوازې زمـوږ نیکونـه پـر وبـا اختـه کېـدل، دا د مـادي انسـان ناکامـي ده، اوس خـو د انسـان د کړنـو له کبلـه پـه وچـه او لمده کـې فسـاد راڅرگند شـوې دی.

**دوام لري...**

# روسیه، چین، ایران او ترکیه له امریکا څنګه پخوانی غچ اخلي؟!

بي بي سي- پښتو

د امریکا په ډېری ښارونو کې د یوه سپین پوستي پولیس په لاس د تورپوستي جورج فلویډ مرگ پسې مظاهرې پیل شوې چې په ځینو ښارونو کې په تاوتریخوالي اوښتي. پولیس اوښکې بهوونکی گاز کاروي او لاریونوال هم پر پولیسو د ډبرو گوزارونه کوي او په ځینو ښارونو کې د لوټ تالان پېښې هم شوې دي.

دا مظاهرې نورې نړۍ ته هم خورې شوې او له امله یې په ډېرو هېوادونو کې د کرونا ویروس خبري سرټکي لاندې کړل او اوس د دې مسئلې اړوند خبرونه سرټکي شول.

دې پېښې هغو هېوادونو ته هم ښه چانس په لاس ورکړ چې امریکا یې په خپلو هېوادونو کې د وگړو د ولسواکو حقونو په خلاف ورزۍ تورنوي.

اوس دوی له امریکا سره هغه څه کوي چې پخوا واشنگټن له دوی سره کول. په دغو هېوادونو کې روسیه، چین، ایران او ترکیه دي.

**چین**

په چین کې دولتي ورځپاڼه گلوبل ټایمز په امریکا کې مظاهرو ته د حکومت غبرگون په هانکانگ کې د چین له غبرگون سره پرتله کوي او وايي چې په هانکانگ کې یو کال گډوډي وه، خو پوځ ونه لېږل شو، مگر د امریکا په مینیاسوټا کې له درې ورځې گډوډۍ وروسته ولسمشر ټرمپ د پوځ لېږلو او د وسلې کارولو گواښ وکړ. سرچینه وايي: «امریکا په هانکانگ او نوره نړۍ کې د مظاهره چیانو مورال لوړوي، خو اوس خپل کرلي رېبي».

امریکا په هانکانگ کې د مظاهره چیانو سره د چلن له امله پر چین نیوکه کوي. دا مظاهرې له ۲۰۱۴ ز کال راهیسې پیل شوې.

تېره میاشت چې بیجېنگ په دغه ایالت کې د نوي امنیتي قانون مسوده وړاندې کړه، نو لا ډېرې مظاهرې وشوې.

چین دا لاریونونه «فساد» بولي، خو امریکا یې ملاتړ کوي او له بیجېنگ غواړي چې د دې خلکو د حقونو خیال وساتي او غږ یې واوري.

په چین کې پر ټوېټر بندیز دی، خو دې ته ورته خواله رسنۍ ویبو کې خلک د امریکا پر مظاهرو تبصرې کوي چې د حکومت په واک کې دی.

یوه کس په سپینه ماڼۍ کې د ټرمپ له پنا اخیستو وروسته په ویبو کې لیکلي: «د امریکا د خلکو په رایه ولسمشر شوی، خو اوس له خلکو ډاربږي».

دا پیغام ۸۵ زره کسانو خوښ کړی او یوه کارن لیکلي چې په هانکانگ کې حالات اوس په امریکا کې هم ښکاره شول.

**ایران**

په ایران کې د ۱۹۷۹ ز کال له انقلاب وروسته د واشنگټن او تهران اړیکي خرابې دي او امریکا پر ایران سخت بندیزونه لگولي دي.

د جورج فلویډ له وژنې وروسته مظاهرو ته په پام د ایران فارس خبري اژانس په یوه مضمون کې پر امریکا ټینگار کړی چې پر نړیوالو قوانینو ودرېږي او د تورپوستو خوندیتوب باوري کړي.

په دې لیکنه کې راغلي: «امریکا په نورو هېوادونو کې د انساني حقونو پر سرغړونو نیوکې کوي، خو په خپل هېواد او منځنی ختیځ کې د خپلو ملگرو په لاس د انساني حقونو پرلپسې پښنو لاندې کول نه مني».

د ایران دولتي رسنیو د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر هغه ټوېټ هم پراخ خپور کړی چې پکې یې په امریکا کې له تورپوستو سره چلن پر ایران لگېدلیو بندیزونو سره پرتله کړی دی، خو د ایران په مشهد کې د جورج فلویډ په یاد ناسته باندې هم په ټوېټر کې بحث شوی او یوه کارن لیکلي: «تاسو د فلویډ په یاد شمې بلوئ، خو کله چې ځینو کسانو د اوکراین د الوتکې په پېښه کې د مړو کسانو په یاد شمې بلې کړې، نو ایراني چارواکو ونیول».

ځینو کارنو د تېر نومبر مظاهرو ته د ایران غبرگون د امریکا اوسنیو مظاهرو ته د واشنگټن له چلن سره ورته بللی دی. د بښنې نړیواله اداره وايي، تېر نومبر په ایران کې پولیسو تر درې سوو لاریونوال ووژل.

**روسیه**

روسي رسنۍ هم امریکا په منافقت تورنوي او یو خبریال دیمیتري کزیلفو وايي، که دا هرڅه په روسیه کې وی، نو امریکا او څو نورو هېوادونو به پر مسکو د «نویو بندیزونو» د لگولو غوښتنه کړې وه.

کله چې مسکو د اوکراین ټاپووزمه کریمیا له خپلې خاورې سره یو ځای کړه، نو امریکا پر ځینې روسي چارواکو او اقتصادي چارو بندیزونه ولگول.

نوموړی زیاتوي، واشنگټن ټولې نړۍ ته د دې ویلو هڅه کوي چې څنگه ژوند وکړي، خو په خپله خاوره کې یې «د تشدد او بربریت» منظرې لیدل کېږي.

نوموړي دا هم ویلي، امریکا له کرونا ویروس د خپلو وگړو په خوندیتوب کې هم پاتې راغله او له بل هر هېواد په امریکا کې ډېر کسان له کووېډ-۱۹ مړه شول.

هغه په یوه تلوېزوني پروگرام کې د چین او امریکا د حالاتو په پرتلنې سره زیاته کړه: «دواړه هېوادونه د مظاهره چیانو پرضد سخت عمل کوي او پر خواله رسنیو بندیزونه لگوي».

د روسیې چینل ون رشیا په نوم ټلوېزیون هم د یوه ماښام په خبري سرټکو کې وویل، امریکا د مظاهره چیانو د تیت او پرکولو لپاره داسې «ډنډې» وکارولې چې ترکیې او مصر د لاریونوالو لپاره کارولې وې او واشنگټن په تېر کې دا ډول ډنډې «جرم» باله.

**ترکیه**

د ترکیې یوې حکومت پلوه ورځپاڼې«یاني سفک» په خپل اول مخ کې د امریکا لاریونونه «ایفرو امریکن سپرېنگ» یا د تورپوستو امریکایانو پسرلی بولي. یوې بلې ورځپاڼې په غټو تورو لیکلي: «زه سا نشم اخیستلی، بغاوت خپروي».

ترک رسنیو د ولسمشر رجب طیب اردوغان دا ټوېټ هم خپور کړی چې پکې یې د جورج فلویډ په مرگ خپگان ښودلی او ویلي یې دي: «دا مرگ د توکمپالنې او فاشېزم په ډول وشو».

په ترکیه کې د خواله رسنیو ځینې کارنو په خپل هېواد او امریکا کې مظاهره چیانو ته د پولیسو غبرگون سره پرتله کړی او یوه کارن لیکلي: «امریکا د خپلو گناهونو سزاویني».

په ترکیه کې په ۲۰۱۳ ز کال په غازي پارک کې د ودانۍ پلان ته په غبرگون کې مظاهرې وشوې او واشنگټن د دې لاریونوالو پرضد د ځواک کارولو باندې اندېښنه ښوده او له انقرې یې وغوښتل چې د خلکو د مظاهرې حق ومني.

له بلې خوا د ترکیې پر حکومت ملاتړو کارنو باندې هم نیوکې شوې او یوه کس د ولسمشر اردوغان په یادولو سره لیکلي: «تاسو د هغه هېواد ولسمشر یاست چې یو ماشوم د اوښکې بهوونکي گاز په مرمۍ سر ته ولگېد او مړ شو».

په ۲۰۱۳ ز کال یو ۱۳ کلن ماشوم برکن ایلون پر مظاهره چیانو د اوښکې بهوونکیگاز د مرمۍ له امله مړ شوی و.

ځینې ټوېټر کارنو ترکیه په دوه مخي سیاست تورنه کړې او یوه لیکلي، په امریکا کې د توکمپالنې خلاف غږ پورته کوي، خو خپل هېواد کې له کور ودانو سره پر چلن چوپ دي.

# پاکستاني ناتار او د حکومت چوپتیا؛

## اغزن سیم د افغان پوځ د پوستو څو مترۍ ته رسېدلی دی



د تېرو سرغړونو په دوام، پاکستان تازه په کونړ کې نور هم خپلې پوستې او اغزن سیم افغان لوري ته راوړاندې کړې دي. په کونړ کې د ځینو ولسوالیو اوسېدونکي وايي چې پاکستاني عسکر ورځ پر ورځ په افغان خاوره کې تاسیسات جوړوي، خو افغان حکومت یې پر وړاندې چوپ دی. د دوی په خبره، ان په ځینو سیمو کې کلي او زراعتي ځمکې د پاکستاني پوځ له لوري د اغزن سیم په وسیله نیمایي شوې دي. افغان حکومت بیا په لوړه کچه تر اوسه په دې اړه غبرگون نه دی ښودلی، خو په ختیځ کې د پوله ساتو ځواکونو چارواکو ویلي، پاکستاني ځواکونه به دې کار ته پرې نه ږدي.

د ولسمشر غني د حکومت د لومړۍ دورې له پیله تر دې دمه پاکستان پر ډیورنډ فرضي کرښه د نظامي تاسیساتو جوړول پیل کړي دي. دوی د لومړي ځل لپاره پر تورخم پوله د رسمي پولې په څېر دروازه جوړه کړه، د وېزې اخیستل یې جبري کړل او په پراخه کچه یې پر ډیورنډ فرضي کرښې د سرتېرو ځای پر ځای کولو ته مخه کړه. ډیورنډ فرضي کرښه ده چې پاکستان ورباندې د ورته اقداماتو حق نه لري، خو د ولسمشر غني په مشرۍ حکومت له کلونو راهیسې د پاکستاني لوري پر دې غیر قانوني اقداماتو پټه خوله دی.

اوس تازه د طلوع نیوز یو راپور ښیي چې په کونړ کې په ځینو ولسوالیو کې پاکستاني عسکر څو کیلومتره افغان خاورې ته ننوتي او نظامي تاسیسات یې جوړ کړي دي. د سیمې اوسېدونکو خپلو کورونه پرې اېښې دي، خلک په دوو برخو وېشل شوي، اغزن سیم کش شوی او د ځینو خلکو کورونه په توغندیو ویشتل شوي، څو له سیمې کډه کولو ته مجبور شي.

د کونړ ولایت اوسېدونکي وايي چې پاکستاني عسکر تر ټولو سرکاڼو او خاص کونړ ولسوالۍ کې رامخ ته شوي دي. د دوی په خبره، په دې ولسوالیو کې یې ځینې کلي په اغزن سیم په دوو برخو وېشلي چې نیم اوسېدونکي یې یوه خوا پاتې دي او نیم بلخوا، خو افغان ځواکونو یې پر وړاندې هېڅ ډول اقدام نه دی کړی. ځینې انځورونه ښیي چې د پاکستاني عسکرو اغزن سیم ان د افغان ځواکونو د پوستو څو مترۍ ته رسېدلی دی.

بلخوا سندونه ښیي چې څلور کاله وړاندې یوه ملکي او نظامي پلاوي په گډه د دغې سیمې په اړه یو راپور چمتو کړی او په هغه کې یې یادونه کړې چې پاکستاني عسکر له خپلو ځایونو افغان لوري ته را اوښتي، تاسیساتو یې جوړ کړي او اغزن سیم تېروي، خو افغان حکومت یې پر وړاندې بیا هم غبرگون نه دی ښودلی.

د کونړ د ولایتي شورا غړی محمد دین صافی بیا وايي، پاکستاني عسکر په دې نامه دلته تاسیسات جوړوي چې گواکې له امریکایي او افغان پوځیانو سره په گډه ترهگر تعقیبوي. د ده په خبره: ((وایي موږ دلته گډه اډه جوړوو، افغان، امریکایي او پاکستاني عسکر به دلته وي، باید دښمن تعقیب کړو او پر وړاندې یې گډ عملیات وکړو، په همدې نامه زموږ خاورې ته راغلي او تاسیسات یې جوړ کړي، اغزن سیم یې هم تېر کړی دی)).

بلخوا د سرکاڼو ولسوالۍ اوسېدونکي وايي چې د دوی نږدې لس کلي د پاکستاني عسکرو له لوري د اغزن سیم په تېرولو په دوو برخو وېشل شوي چې نیم یې یوه خوا او نیم نور یې د سیم بلخوا ژوند کوي. د دوی په خبره، په دې سره د خلکو ځمکې او کورنۍ بېلې شوې دي. د سرکاڼو اوسېدونکی عبدالودود وايي: ((له اغزن سیم هاخوا زما ماماگان او کاکاگان دي، د سیم تر غځولو مخکې موږ له یو بل سره تگ راتگ کاوه، خو اوس دا کار نه شو کولی».

یوازې کونړ نه، بلکې د افغانستان په ډېرو ولایتونو کې پاکستاني عسکرو په بېغمه زړه افغان خاورې ته پرمختگ پیل کړی، خو افغان پوځ او حکومت یې پر وړاندې د پام وړ اقدام نه دی کړی. څو ورځې وړاندې د ولسي جرگې غړو هم په دې تړاو اندېښنه ښوده. ډیورنډ فرضي کرښه ده چې د دغه کرغېړنې کرښې دواړو لورو پرتو ولسونو ته د منلو نه ده، خو افغان حکومت پر دغه فرضي کرښه د پاکستان د اقداماتو پر وړاندې چوپ دی چې دا چوپتیا د جدي اندېښنې وړ ده.

# په امریکا کې رواني گډوډۍ او پر ټرمپ نیوکې؛

## ډیلي مېل: بې باوره ټرمپ نور هم خپل باور له لاسه ورکړی

په امریکا کې له روانو بې ثباتیو سره هممهاله، د ولسمشرۍ ټاکنو په اړه یوه تازه نظرپوښتنه ښیي چې ډیموکراټ جوبایډن تر اوسني ولسمشر ډونالډ ټرمپ اووه سلنه مخکښ دی.

د ډیلي میل ورځپاڼې د تازه راپور له مخې، که څه هم د ۲۰۱٦ میلادي کال په ټاکنو کې ټرمپ تر هیلري کلینټن دوه سلنه شاته وو، خو بیا یې هم ټاکنې وگټلې، اما د ورځپاڼې په خبره اوس یې خپل باور او محبوبیت له لاسه ورکړی او د بیا ځلي ولسمشر کېدو امکان یې ډېر لږ دی. ورځپاڼه کاږي، ټرمپ تر ولسمشر کېدو څو ورځې وروسته هم د خلکو په زړونو کې خپل ځای له لاسه ورکړی و، خو د وروستیو پېښو له امله چې ټوله پړه یې ده ته ور گرځي، نور هم بې باوره شوی دی.

په ورته وخت کې متقاعد جنرال او د امریکا د دفاع او بهرنیو چارو پخواني وزیر کولن پاول له یوې ټلوېزیوني شبکې سره په خبرو کې ویلي، چې ټرمپ یو دروغجن انسان دی چې د ولسمشر په توگه بیا ټاکل کېدل یې د امریکا په زیان دي. نوموړي ویلي، ټرمپ په امریکا کې نژادپالنې ته لمن وهي او له لاریون کوونکو سره یې د ناوړه چلن پټ امرونه ورکړي دي. پاول ویلي، ټرمپ یو دروغجن انسان دی او امریکا ته یې د گټې پر ځای زیان اړولی دی.

پر ټرمپ دغه نیوکې داسې مهال دي چې متحده ایالتونه اوسهال له یوه سخت بحراني حالت سره مخ دي. په دغه هېواد کې د کرونا ویروس ورځ تر بلې د بلې د پراخېدو په حال کې دی، خو له بلې خوا پکې په دې وروستیو کې د یوه سپین پوستي پولیس له خوا د تورپوستي امریکایي وژنې پراخ غبرگونونه راپارولي دي. پر امریکا سربېره د نړۍ په گوټ گوټ کې د تور پوستي جورج فلویډ د وژنې په غبرگون کې پراخ لاریونونه روان دي چې په امریکا کې بیا پر تاوتریخوالي هم اوښتي دي.

په ورته وخت کې د امریکا د متحده ایالتونو په گوټ گوټ کې چارواکو له هغو لاریونوالو څخه چې د جورج فلویډ د مړینې په غبرگون کې سړکونو ته راوځي، غوښتي چې د څه د پاسه یوې اونۍ لاریونونو او نږدې تماسونو وروسته دې ځانونه د کروناویروس لپاره معاینه کړي.


د نیویارک ډیموکرات والي اندریو کومو له لاریونوالو غوښتي چې ځانونه معاینه کړي او زیاته کړې یې ده چې د نیویارک ایالت د کروناویروس د معایناتو لپاره ۱۵ نور مرکزونه هم پرانیستي دي. همداشان د اتلانتا، سان فرانسیسکو او سیاتل ایالتي او ښاري مشرانو هم پر لاریون کوونکو ورته غږ کړی دی.

## د کتـــاب خبـرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه
### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارایۍ
### دویم څپرکی




ایا دا په حقیقت کې کار کوي؟ تا ته یې ځواب ښه معلوم دی چې مستقیم پلور یا شبکه یي بازار موندنه اوس په کال کې تر ۱۱۰ میلیارده ډالره هم زیاته ده. دا دومره ډېرې پیسې دي چې د نیوزیلنډ، پاکستان او فیلیپین له ټول اقتصاد سره برابرې دي. ډېر وخت د کاروبار دغه ډول، د مستقیم پلور یا شبکه یي بازارموندنې په نومونو یادوم، ځکه نن ډېر شرکتونه پر شبکه یي بازارموندنه په تمرکز مستقیم پلور کوي. په دې کتاب کې به یوازې د شبکه یي بازارموندنې له نومه استفاده کوو.

د شبکه یي بازارموندنې د ټول پلور د پرمختګ یو دلیل د دواړو اړخونو ګټه ده، یانې هم د شرکت او هم د پېرودونکي ګټه. د پخوانیو تجارتونو په طریقه بازار ته د کمپنۍ ننوتل او د پېرودونکي پوهاوی خورا سخت دی.

دا څنګه کار کوي؟ د شبکه یي اشخاصو د تړاو او د خلکو له لوري یو بل ته د تولیداتو د اخیستلو د مشورې په مټ موږ تولیدات او خدمات وړاندې کولای شو.

رابرټ! ته وایې لوی شرکت هغه دی چې لږ تر لږه ۵۰۰ کارکوونکي ولري. په شبکه یي بازار موندنه کې ته یو څوک په کار نه ګومارې، بلکې د ازادو استازو په توګه د هغوی ملاتړ کوې. که ستا استازي ۳۰۰، ۴۰۰ یا ۵۰۰ ته ورسېږي، نو یوه قوي او د پام وړ اداره به جوړه شوې وي.

**نور خلک د بازارموندنې په اړه څه نظر لري؟**

لکه څنګه چې جان وایي:((د کاروبار دا جوړښت خورا پیاوړی دی، ځکه چې ښه پایله لري.)) یوازې موږ دا خبره نه کوو، بلکې نور هم په همدې نظر دي.

د مدیریت مشهور مسلکي او د زیات پلورل شوي کتاب In Search of Excellence لیکوال ټام پیټرز شبکه یي بازارموندنه داسې راپېژني:((په بازارموندنه کې دا لومړی انقلابي حرکت پنځوس کاله وړاندې د هارواړډ بازارموندنې په پوهنتون او د پراکټر او ګیمبل په شرکت کې پیل شوی دی. «د شبکه یي بازارموندنې بریا په فوربز، فرچون، نیوزویک، ټایم، یو اس نیوز، یو اس اې ټوډې، نیویارک ټایمز او وال سټریټ ژورنال کې لیکل شوې. پنځلس کاله وړاندې تاسو له پورته ډلو یوه هم نشوی قانع کولای چې د شبکه یي بازارموندنې په اړه لیکنه وکړي.

نن د بازارموندنې شبکې د مسلکي او کاروباري خلکو لخوا د زیاتو پرمختګ کوونکو کاروباري لارو په توګه پېژندل شوې دي.

د فرچون مجلې وروستۍ ګڼه د شبکه یي بازارموندنې په اړه وایي:«شبکه یي بازارموندنه د پانګونې هیله، د نړۍ پټ کاروباري راز، د کلنۍ ګټې لرونکې صنعت، ښه ګټه، د پانګې پر وړاندې لویه لاسته راوړنه او نړیواله اوږدمهاله مثبته هیله ده.»

وارن بافی او ریچارډ برانسون زیات توپیر لري. وارن په موټر کې ګرځي او په اوماها کې اوسېږي. برانسون د خپل شرکت په الوتکه کې سفر کوي او په برېټانوي ویرژن جزیرو کې په خپله جزیره کې اوسېږي. خو د دوی درې شیان ګډ دي. دوی دواړه میلیاردران دي، دواړه ډېره ګټه کوي او دواړه د بازارموندنې شبکې لري.

**ایا یو څه ته متوجه شوئ؟**

سیټي ګروپ، جاکي، لوریل، مارز، رمینګټن او یوني لېور کوم ګډ څه لري؟ دوی ټولو د شبکه یي بازارموندنې په اوبو کې لاسونه ننویستلي او ځینې بیخي پکې ډوب شوي دي.

نن د بازارموندنې شبکې د مسلکي او کاروباري خلکو لخوا د زیاتو پرمختګ کوونکو کاروباري لارو په توګه پېژندل شوې دي.

اتم څپرکی

۸. پیسې ګټل اصل نه دی، اصل هغه شتمني ده چې پیسې پرې ګټل کېږي.

د شبکه یي بازارموندنې په ارزښت د خلکو نه پوهېدل د حیرانتیا خبره نه ده. زیات خلک چې پرې اخته هم دي، په ارزښت یې نه پوهېږي.

کله چې خلک د شبکه یي بازارموندنې په اړه اوري، نو ډېر ځله دغه پوښتنه کوي:«که زه دغه کاروبار پیل کړم، څومره ګټه به وکړم؟» همدا دلیل دی، کله چې د دې کاروبار له ګډون کوونکو سره خبرې کوئ، د میاشتنۍ ګټې پوښتنه درنه کوي.


هغه خلک چې میاشتنۍ ګټه غواړي، هغوی اوس هم د E او S کونجونو په فکر کې ژوند کوي. هغوی غواړي دغه تجارت د تنخوا یا ازاد کار په څېر میاشتنۍ ګټه ورته وکړي. خو دغه د شبکه یي بازارموندنې ارزښت نشي کېدای.

کومه ګټه چې له کاره ترلاسه کېږي، ډېره محدوده او د منحني خط په څېر وي. یو ساعت کار یو ډالر؛ دوه ساعته کار دوه ډالره. یانې په تا پورې اړه لري چې څومره کار کوې؛ خو دنده به نه پرېږدې. که دې پرېښوده، غرق شوې. یانې دنده به کله هم نه پرېږدې. ما مخکې هم درته ووېل، دنده بیخي د تلک غوندې ده. ډېر خلک دغه ستونزه درک کوي او زیاتې پیسې ګټل له دغې ستونزې څخه د خلاصون لاره ګڼي. خو زیاته ګټه کول مو د پیسو ګټلو له تلک څخه نشي خلاصولای. په حقیقت کې ډېرې پیسې ګټل کله کله په تلک کې ځان بندول دي.

**دوام لري...**

# توماس جفرسون

شفیق امیرزی



توماس جفرسون د ۱۷۴۳ ز کال د اپریل په ۱۳مه د ویرجینیا ایالت په شیدوېل سیمه کې زیږېدلی دی. هغه د امریکا د بنسټګرانو له ډلې و او د امریکایي ولسمشرانو په ډله کې قوي متفکر ګڼل کېږي. توماس جفرسون له ۱۸۰۱ ز کال وروسته د دوو پرله پسې دورو لپاره د امریکا ولسمشر پاتې شوی دی. نوموړی د ۱۸۲٦ ز کال د جولای په څلورمه، د خپلواکۍ د اعلامیې له لیکلو پوره پنځوس کاله وروسته، د ویرجینیا ایالت په مانتیچلو ښار کې د ۸۳ کلونو په عمر ومړ. هغه یو روشنفکره ولسمشر و او د روښنګرۍ پلوی و.

هغه بزګر و. باوري و، چې بزګرۍ او په کلیو کې کارونو ته باید ارزښت ورکړل شي. هغه دا کار د جمهوریت لپاره یوه مفکوره یا آیډیا ګڼله. ده به ویل، تر ښارونو په کلیو کې پانګونه ښه ده. د ښارونو پانګونه یې یوازې د څو کسانو پرمختګ باله. هغه همدا راز له یوجیمز مادیسون سره یو ځای د ډیموکرات جمهوري غوښتونکي ګوند بنسټ کېښود، چې د ۲۵ کلونو لپاره یې د امریکا پر حکومت راج وچلاوه. هغه همدا راز د ویرجینیا ایالت حاکم او دویم کس دی چې په امریکا کې د ولسمشر مرستیال پاتې شوی و.

هغه له دینه د سیاست د بېلوالي پلوی و او د ادیانو او مذهبونو د خپلواکۍ قانون یې لیکلی دی. جفرسون همدا راز لرغونپوه او ښه لیکوال و. نوموړي په ۱۸۱۹ ز کال کې د ویرجینیا د پوهنتون بنسټ کېښود.

جفرسون د ویرجینیا له مشهورو خلکو سره لوی شوی دی. دی د خپلې کورنۍ له اتو اولادونو دریم اولاد دی. مور یې رندولف نومېده. پلاری یې پیټر جفرسون نومېده چې په ویرجینیا کې بزګر او د بزګرۍ څارنوال او څارونکی و. کله چې قومندان ویلیام رندولف په ۱۷۴۵ ز کال کې ومړ، نو د توماس پلار د هغه د ملکیتونو او ځمکو د ساتنې مسوولیت واخیست. ده به د تاکاهو له کروندو ساتنه کوله او د ویلیم ټول ملکیتونه د ده په ولکه کې وو. ویلیم یو کوچنی زوی هم درلود او پیټر یې ساتنه کوله. په همدغه کال کې د توماس کورنۍ تاکاهو ته کډه وکړه. پوره ۷۷ کاله هلته و اوسېدل او وروسته له دې ځایه خپل پلرني ټوټابي البه مارله ته را وګرځېدل. توماس په ۱۷۵۲ ز کال کې یو سیمه ییز ښوونځي ته لاړ. دغه ښوونځی د ویلیم داګلاس له لوري اداره کېده. په نهه کلنۍ کې یې د فرانسوي، لاتیني او یوناني ژبې پر زده کړه پیل وکړ. په ۱۷۵۷ ز کال چې توماس ۱۴ کلن و، پلار یې ومړ. ده ته پراخه ځمکه او لسګونه غلامان په میراث پاتې شول. له دې وروسته یې هلته کور جوړ کړ او بیا دغه ودانۍ او د ده کور په مانتیسلو مشهور شول.

په ۱۷۵۸ او ۱۷٦۰ ز کلونو کې چې د توماس پلار ومړ، د هغه وخت د مشهور وزیر جیمز مایوري (James Maury) په ښوونځي کې یې زده کړې پیل کړې. دا ښوونځی د ویرجینیا په ګوردون اسویل کې و. دی د مایوري له کورنۍ سره معرفي شو او هلته یې مهمې او پراخې کلاسیکې زده کړې وکړې. په ۱٦ کلنۍ کې د ویلیام اند ماري په پوهنتون کې داخل شو. هلته یې د جورج وایټ تر نظر لاندې د حقوقو زده کړې ته مخه کړه. همدلته لوړو علمي افتخاراتو ته ورسېد او له دغه ځایه فارغ شو. وروسته یې د فلسفې په پوهنځي کې د زده کړو لپاره نوملیکنه وکړه. دلته یې د خپل استاد ویلیام سمال تر نظر لاندې د ریاضیاتو، میتافیزیک او فلسفې زده کړې ته مخه کړه. ویلیم سمال، توماس وهڅاوه چې د برېټانوي لیکوالانو لکه، جان لاک، فرانسس بیکن او ایزاک نیوټن لیکنې ولولي. دغه درې کسه، جان لاک، فرانسس بیکن او ایزاک نیوټن د توماس لپاره مهم کسان وو. ده به ویل، دا درې هغه تر ټولو ستر انسانان دي چې تر ننه نړۍ ته راغلي دي. توماس د لیکلو او لوستلو ترڅنګ، د ویلیون غږولو ته هم مخه کړه.

د ۱۷٦۵ ز کال په اکتوبر کې د توماس ۲۵ کلنه خور مړه شوه. د هغې مرګ توماس ته خورا سخت و، نو له همدې امله د څه مودې لپاره ګوښه ناستی شو. د توماس خور له ده سره فکري ورته والی درلود او په ډېرو مواردو کې به یې له یو بل سره مشورې کولې. توماس هر کال له ډېرو قضایي دوسیو سره سروکار درلود. په همدې لړ کې له یوې کونډې سره معرفي شو. هغه ویلز سکلټون نومېده. دوی دواړو په ۱۷۷۲ ز کال کې واده وکړ. توماس دغه مېرمن له ځان سره مانتیسلو ته بوتله. دا نو یوه لرې پرته او غرنۍ سیمه وه. په همدې غرنۍ سیمه کې یوه نیمه کاره جونګړه وه او توماس له سکلټون سره ګډ ژوند پکې پیل کړ.

په مذهبي او فکري لحاظ توماس جفرسون مسحیت ته درناوی نه درلود. ده به ویل چې په مسحیت کې ډېری شیان غیر منطقي او غیر عقلاني دي. ده به ویل، د عیسی په اصلي پیغام کې د پولیسو او نورو کسانو له لوري لاسوهنه شوې ده. توماس جفرسون څو څو ځله د خپلې واکمنۍ پر مهال په دیني مسایلو کې له ښکېلتیا ډډه وکړه، خو پر ځای یې معنوي ارزښتونه او اخلاق مهم بلل. ده به ویل، عیسی یو لارښود و، خو پیغام کې یې ګوتې وهل شوې دي. د ده په خبره، د عیسی ستره موخه دا وه، چې د بشریت په اخلاقي روزنه کې برخه واخلي او موخه یې د انسانانو ښېګڼه وه، خو پلویانو او کشیشانو د ده په پیغام کې لاس وهلی دی او په ناسمه توګه یې نورو انسانانو ته وړاندې کوي. ده د انجیل د هغو برخو د لوستو او پر هغو د عمل سپارښتنه کوله، چې په هغه کې د انسانانو اخلاقي روزنه مهمه بلل شوې ده. ده به ویل چې دی اصلي مسیحي دی، ځکه د عیسی ع سلام ریښتیني پیغام ته درناوی لري او د هغو شیانو ضد دی، چې د عیسی ملاتړو ورپسې تړلي دي.

توماس جفرسون تر ولسمشرۍ مخکې مهم امریکایي ډیپلومات و. دی د امریکا په تاریخ کې دویم مرستیال ولسمشر، لومړنی د بهرنیو چارو وزیر او دریم ولسمشر دی. توماس جفرسون د امریکا د استقلال اخیستونکو په ډله کې ځانګړی ځای لري. نوموړی ښه لیکوال و، خو هېڅ وخت ښه ویناوال نه و. له همدې امله دی د کنګرې چوپ غړی بلل کېده. له همدې امله ده دا غوره ګڼله چې خپل پیغام د خبرو پر ځای د قلم له لارې ولېږدوي. ده به د ژبې پر ځای له قلم ګټه اخیسته او خپل باورونه یې له خلکو سره شریکول. د کنګرې دغه چوپ غړي په ۳۳ کلنۍ کې د امریکا د استقلال اعلامیې خاکه ولیکله. وروسته یې هڅه دا وه، چې خپل نظریات پر حقیقت بدل کړي. تر ولسمشرۍ مخکې مرکزي حکومت ته د جفرسون وفاداري او د مرکزي حکومت د قوت لپاره د هغه کارونه د دې سبب شول، چې د جورج واشنګټن پام یې ځان ته واړاوه او هغه یې د بهرنیو چارو وزیر وګوماره. په ۱۷۹۳ ز کال کې یې یو ځل له دې دندې استعفا ورکړه، خو بېرته په ۱۹۹٦ ز کال کې د بهرنیو چارو د وزیر په توګه وګومارل شو. هغه د سفارت دنده هم پر مخ وړې ده.

امریکایان جفرسون ته د یوه ځیرک ولسمشر په سترګه ګوري. ده د امریکا لپاره مهم قوانین تصویب کړل او په بنسټیزه توګه یې په دغه هېواد کې د انساني حقوقو د ازادۍ لپاره کار وکړ. جفرسون د مذهب ازادي، له دین د حکومت جلاوالی او دې ته ورته مهم قوانین تصویب کړي دي. هغه چې کله مړ کېده، نو وصیت یې وکړ چې د ده د مقبرې پر ډبره دا جمله ولیکي ((د مذهب د ازادۍ او همدا راز له مذهبه د حکومت د جلاوالي او د ویرجینیا پوهنتون بنسټګر)).

کله چې جفرسون واک ته ورسېد، نو جګړې ختمې شوې وې او د فرانسې بحران پای ته رسېدلی و. توماس جفرسون د سمندري ځواک او پوځ لګښتونه راکم کړل. بودیجه یې راکمه کړه. پر ځینو توکو یې مالیات بند کړل او بریالی شو چې د امریکا پورونه راکم کړي.

ده هڅه وکړه چې د سمندري غلو د ځپلو لپاره د لوړپوړو پوځي افسرانو او قوي پوځیانو یوه ډله وګوماري او دوی ته یې دنده ورکړه، چې سمندري غله له منځه یوسي. دغه غله د مدیترانې په سمندرګي کې د امریکایي بېړیو په لوټ او ځورونه لګیا وو.

هغه د امریکا د خاورې پراختیا او جغرافیایي وسعت لپاره هم کار وکړ. هغه چې څنګه فرصت پیدا کړ، نو د ناپیلیون تر مشرۍ لاندې فرانسه یې دې ته قانع کړه، چې د لوییزیانا ځمکې پر امریکا وپلوري.

د جفرسون دویمه دوره حکومت له سختیو سره مخ و. په دې موده کې نوموړي یوازې دا هڅه کوله چې امریکا په ناپیلیوني جګړو کې له ښکېلتیا وژغوري. ده غوښتل چې امریکا بې طرفه وي او په دې توګه خپلې ودې ته ادامه ورکړي. خو هم برېټانیا او هم فرانسه د امریکایي سوداګرو د بې طرفۍ مخالف وو. په دې برخه کې د جفرسون حللارو هم مثبته پایله نه لرله.

جفرسون ته په امریکا کې د خلکو ولسمشر وایي. یو لامل یې دا دی، چې ده له خلکو سره له نږدې ناسته ولاړه لرله. بل یې دا دی چې د خلکو په مستقیمه رایه واک ته رسېدلی و. ده هڅه کوله چې تر اشرافو او لویو خلکو مخکې له عامو وګړو سره ناسته ولاړه ولري. ډېری داسې موارد یې د خپل حکومت پر مهال عملي کړل، چې په هغه کې د اشرافو زیان و، خو د امریکایي خلکو په ګټه وو. دی چې کله په سپینه ماڼۍ کې واک ته ورسېد، نو هلته یې ډېرې شاهي او مجلل دودونه له منځه یوړل. شاهانه خواړه چې د جورج واشنګټن د واکمنۍ پرمهال دود شوي وو، بیا جان ادامز دا دود پاله، خو جفرسون ختم کړ. ده به ویل، ولسمشر د خلکو یو عادي استازی دی، نو د نورو وګړو په څېر باید له تجمل او نمایش پرته عادي ژوند وکړي. له دې وروسته په سپینه ماڼۍ کې عادي خواړه پخېدل او د هر چا چې هر ځای زړه وای، ډوډۍ یې خوړله.

جان ادامز له جفرسون وغوښتل چې د استقلال اعلامیه ولیکي. ځکه ادامز ته د جفرسون د لیکلو سبک معلوم و. هغه یې ډېر خوښ و. هغه دا مهال ۳۳ کلن و. په اوولسو ورځو کې یې د متن لیکل بشپړ کړل.

امریکا د هغو لومړنیو هېوادونو له ډلې وه، چې خپلواکي یې اخیسته. نو له همدې امله د ازادۍ د اعلامیې لیکل مهم وو. بیا وروسته د نږدې ۲۰۰ کلونو لپاره د ازادۍ دا اعلامیه د ډېرو ازادي غوښتونکو هېوادونو لپاره د لارې مشعل شوه.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۵ |
| € | ۸۵ |
| Rp. | ٦٧٣ |
| ₹ | ۹۷۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹٤,۵۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# د کاروبار د پرمختګ لپاره دغه عادتونه اړین دي!

ژباړه: حمیدالله حمیدي

که کار پنځوونکی یا د یوې اداري مدير یاست او يا هم غواړی نوی کار پیل کړی، نو ښه ده چې ځینې داسې عادتونه خپل کړئ چې پر خپلو توليدوونکو توکو او هغو کسانو چې له تاسو سره کار کوي، مثبت اغېز ولري. له دې سره په څنګ کې هغه څه ته چې غواړی ورسېږی، نو باید له یوې منظمې او مخکې ازمویل شوې تګلارې ګټه واخلئ او ګام پر ګام مخ ته ولاړ شئ. په دې ليکنه کې ۱۰ هغو عادتونه ته اشاره شوې چې په شخصي او کاري ژوند کې مو د مثبت بدلون لامل کېږي. کله مې چې د لومړي ځل لپاره د يوه کار پنځوونکي په توګه کاروبار پيل کړ، له ځانه مې پوښتنه وکړه، څه شی د دې لامل شول چې دې ځای ته را ورسېدم؟ اعتبار، پيسې او د نورو ستاينه او هڅونه هغه څه وو، چې زه يې دې ځای ته را ورسولم. د تېر عمر په اړه مې چې فکر کوم، زه ډېر نېکمرغه انسان وم؛ ځکه ما له ډېرو ارزښتناکو کسانو سره اړيکه درلوده، دوې اړخيزې اړيکې مې ځکه ګټورې وې چې د دواړو خواوو په ګټه وې، نه يوازې زما په ګټه؛ ځکه يو انسان په تېره بيا مسلمان بايد دا ځانګړنه ولري، هغه څه چې د ځان لپاره خوښوي، بايد د نورو لپاره يې هم خوښ کړي او ګټه يې ورته ورسېږي. دې هر څه ته رسېدل ناڅاپي نه وو، بلکې د ور رسېدو لپاره مې تل د زده کړو هڅه هم کړې ده.

۱- د خلکو خبرې واورئ او د مرستې لاس ورکړئ

د نورو خبرو ته غوږ نيول او ورته پام کول په کاروبار کې ډېر اړين دي. کېدای شي چې د مقابل کس خبرې تاسو ته ارزښت ونه لري او يا هم ستاسو په کاري ژوند کې ډېرې مهمې نه وي. په رسمي مجالسو کې ډېرې خبرې په دې جملې پای ته رسېږي: «زه څه خدمت درته کولی شم؟» په دې جمله کې ډېر لوی ځواک پروت دی او همدا يوه جمله کولی شي له مقابل کس سره ستاسو کاري اړيکې قوي او ژورې کړي.

۲- اړينې خبرې در سره ليکئ

کله چې تاسو د مقابل کس سپارښتنې او غوښتنې اورئ، درسره نوټ يې کړئ. کله چې تاسو يو څه له ځان سره يادداشت کوی، له موقتي حافظې څخه مو ځي او په دايمي حافظه کې مو ځای نيسي. دغه څه مو پر عادت بدلېږي او د اړتيا په صورت کې يې ژر په ياد راوړلی او ګټه ترې اخيستلی شی.

۳- زړه سواندي اوسئ

مهربانه او زړه سواندي اوسئ. دغه څه مو پر يوه تلپاتې عادت بدل کړئ. هڅه وکړئ چې هېڅکله هم په غوسه نه شی. دا مه هېروئ چې عاقلانه او له زړه سوي څخه ډکې کړنې تل ښه پايله لري. په اصل کې دغه څه تاسو ته چانس په لاس درکوي چې له نورو سره په اسانۍ اړيکه ټينګه کړی.

۴- اړيکې مو پراخې او ښې کړئ

په دې وروستيو کې مو د انټرنېټ له لارې د کاري اړيکو په اړه د ۲۰ کسانو نظرونه واخيستل. په زړه پورې خو دا ده چې ۱۹ کسانو يې د خپل کاروبار د پرمختګ اصلي لامل ښې او تلپاتې اړيکې په ګوته کړې وې. ډېری وختونه په يوه مناسب وخت کې يوازې (جوړ په خير) هم کولی شي ستاسو لپاره د يوې دايمي کاري اړيکې لامل شي.

۵- څه مو چې ويل، عمل پرې وکړئ

يوې لويې غونډې ته بلل شوی وم، د زياتو واورو له کبله ډېری بلل شويو کسانو په غونډه کې له ګډون کولو ډډه وکړه. د غونډې جوړوونکو ته مې ډاډ ورکړ چې زه به هرو مرو ستاسو په غونډه کې ګډون کوم. د دې لپاره چې غونډې ته پر وخت ځان ورسوم، له خپلو ټولو امکاناتو مې کار واخيست. که په خپلو کړو ژمنو عمل وکړی، کولی شی د نورو خلکو پام در جلب کړی او يوه ښه کاري اړيکه رامنځته کړی.

٦- په اداره کې بايد ځانګړې او د راز خلک ولرئ

که مو له يو چا سره کاري اړيکه خرابه شوې وي، بيا يې نو په اړه ډېر فکر مه کوئ. په شاوخوا کې مو ډېر نور کسان شته چې له تاسو سره کار کوي. هغوی ته ارزښت ورکړئ چې له لاسه يې ور نه کړئ. تر اوسه پورې دويم ځلي کاري اړيکې جوړولو هېڅ پايله نه ده ورکړې؛ ځکه اعتبار د ملغلرې اوبو ته ورته دی، چې يو ځل له منځه ولاړ شي، بيا نه راګرځي. ځان غوښتونکي مه اوسئ او دغه کسان بې ارزښته مه ګڼئ؛ ځکه دغه کسان ستاسو د کارکوونکو، مديرانو او شريکانو په توګه ستاسو په کاري ژوند کې ډېرارزښت لري.

۷- حقيقت قبول ومنئ

کله چې له حقيقت او ښه کار سره مخ کېږی، نو ويې منئ. د ځان غوښتنې ناروغۍ ته مو په زړه کې ځای مه ورکوئ. ښه ده چې ووايی: «ډېر ښه» او يا «زه باوري يم چې دا کار به دې د ټولو خوښ شي». د نورو د کار تاييدول او قدر يې کول، د لويو وګړو کار دی، دغه څه مو عادت وګرځوئ.

۸- خلک په ډاليو نازوئ

د ډالۍ اخيستلو پر وخت يوازې خپله ګټه په پام کې مه نيسئ، بلکې هغه احساس ته هم پام وکړئ چې مقابل کس يې د ترلاسه کولو پر مهال بايد ولري.

۹- د کارکوونکو او همکارانو ځانګړې ورځې په ياد ساتئ

د هغو کسانو کليزه او د واده ورځ په ياد ولرئ چې له تاسو سره کار کوي. کولی شی په داسې ورځ خپلې نېکې هيلې يوازې د يوې ټليفوني اړيکې، پيغام او ايمېل په وسيله له خپل همکار او کارکوونکي سره شريکې کړی او مبارکي ورکړئ. دغه کړنه مو کاري اړيکې ته قوت وربښي.

۱۰- په ټوله کې بايد ښه عادتونه خپل کړئ

دا سمه ده چې ښه عادتونه مو په کاري محيط کې د بريا لامل کېږي، خو دا په دې مانا نه ده چې دغه ښه کارونه يا عادتونه يوازې په کاري محيط کې بايد ولری، بلکې له کار پرته د ژوند په ټولو چارو کې ترې ګټه واخلئ. دوستان، کورنۍ، د ژوند ملګری/ملګرې او نور هغه کسان چې تاسو ورسره سروکار لری، ستاسو دې ډول عادتونو ته اړتيا لري، نو که غواړی د ژوند په ټولو چارو کې بريالی وی، ښه عادتونه مو د ژوند برخه وګرځوئ.

## شاهین: له خلیلزاد سره د بندیانو د ژر خوشي کېدو او بین الافغاني خبر پر پیل خبرې وشوې



د افغان سولې لپاره د امريکا د متحده ايالتونو ځانګړي استازي زلمي خليلزاد د افغانستان د سولې په مسئله د پاکستان د لوی درستيز سره خبرې کړې دي.
د پاکستان پوځ په يوه اعلاميه کې د خليلزاد او د پاکستان د پوځ د لوی درستيز جنرال قمر جاويد باجوه د کتنې په اړه خبر ورکړی او ويلي يې دي چې دواړو خواوو د افغان سولې د بهير، افغان کډوالو او د دواړو هېوادونو د سرحدونو د امنيت د تامين په هکله غږېدلي دي.
په اسلام اباد کې د امريکا سفارت هم په يوه اعلاميه کې ويلي چې خليلزاد او جنرال باجوه د بين الافغاني مذاکراتو په پيل کېدو ټينګار کړی او همداشان د اختر په ورځو کې اوربند، د بنديانو خوشي کېدل او په افغانستان کې د تاوتريخوالي د کمېدو موضوعګانې بې ارزولي دي.
ټاکل شوې چې خليلزاد به د پاکستان څخه وروسته کابل ته سفر وکړي او د افغان حکومت له چارواکو سره به د سولې د بهير اړوندو مسلو وغږېږي.
د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په اعلاميه کې ويلي وو چې سيمې ته د خليلزاد د سفر اساسي موخه د ښکېلو غاړو ترمنځ د بين الافغاني خبرو د پيل لپاره د عملي اقداماتو ترسره کولو لپاره موافقه ترلاسه کول وي.
په دې ترڅ کې طالبانو ويلي چې خليلزاد په قطر کې ورسره کتلي او د بين لافغاني خبرو په پيل او د بنديانو په خوشي کولو يې ټينګار کړی دی.
په دوحه کې د طالبانو د سياسي دفتر وياند سهيل شاهين تېره ورځ په خپله ټويټر پاڼه ليکلي چې په دغه کتنه کې په افغانستان کې د امريکا او ناټو د ځواکونو قوماندان جنرال سکاټ مېلر او د قطر د بهرنيو چارو وزارت ځانګړي استازي ډاکټر مطلق القحطاني هم حاضر وو. د امريکا د متحده ايالتونو او طالبانو ترمنځ د روان ميلادي کال د فبرورۍ د ۲۹ مې ورځې د سولې موافقې له مخې، د افغان حکومت له زندانانو څخه د پنځه زرو طالب بنديانو او د طالبانو له خوا د زرو افغان امنيتي ځواکونو پرخوشې کېدو لا هم ټينګار کوي.

## ولسمشر غني: په نږدې وخت کې به نوي وزیران ولسي جرګې ته د باور رایې اخیستو لپاره ور وپېژندل شي



ولسمشر غني وايي، چې په نږدې موده کې به د نوې کابينې غړي به د باور رايې تر لاسه کولو لپاره ولسي جرګې ته معرفي کړي او له تاييد وروسته به يې د سرپرستۍ دوره پای ته ورسېږي.
په پارلماني چارو کې د دولت وزير ضياءالحق امرخېل وايي، چې ولسمشر محمد اشرف غني په همدې تړاو تېره ورځ د ولسي جرګې له رئيس او اداري پلاوي سره کتلي دي.
هغه زياتوي چې په دې کتنه کې د کابينې د غړو د معرفي کېدو تر څنګ، د دولت د درې ګونو قواوو پر همغږۍ هم ټينګار وشو.
دا په داسې حال کې چې ولسي جرګې په وار، وار د سرپرستانو له خوا د وزارتونو پر اداره کولو سختې نيوکې کړې او له ولسمشر يې غوښتې چې د وزارتونو لپاره نوماندان د باور رايې لپاره جرګې ته ور وپېژني.
غني، تېر کال د کب په ۱۹مه د دويم ځل لپاره د ولسمشر په توګه لوړه وکړه او په دغو مراسمو کې يې ويلي وو چې ډېر ژر به د کابينې غړي د باور رايې تر لاسه کولو لپاره معرفي کړي.
دا مهال د ملي دفاع، کورنيو چارو، بهرنيو چارو، ماليې، سوداګرۍ، اوبو او برېښنا، مخابراتو، ښارجوړولو، لوړو زده کړو، کانونو، پوهنې او ځينې نور وزارتونه د سرپرست وزيرانو له خوا اداره کېږي.
په ورته وخت کې د ملي پخلاينې د عالي شورا مشر عبدالله عبدالله ته نږدې سرچينې بيا وايي چې تر دې دمه د کابينې غړيتوب لپاره هېڅوک د دوی له ادرسه نه دي معرفي شوي.
دې سرچينې د نوم نه ښودو په شرط بي بي سي ته ويلي چې په کابينه او ادارو کې ځينې څوکۍ چې د دوی ونډه کېږي، له مخکې څخه په کره ډول نه دي معلومې شوې.
سرچينه وايي، په پيل کې بايد دغه موارد له حکومت سره شريک شي او وروسته به د يوه روښانه لېست پر اساس د دغه ټيم کسان کابينې ته ور وپېژندل شي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
STAY HOME
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه شنبه د ۱۳۹۹ د غبرگولي ۲۰مه | د ۲۰۲۰ د جون نهمه |۵۴۷مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳٥ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:٥٦ | لمر ختل ۰٤:٤۰ | ماسپښین ۱۱:٥۳ | مازیگر ۰۳:٤۰ | ماښام ۰۷:۰٥ | ماخوستن ۰۸:٥۰


## نړۍ



په امریکا کې روانې ګډوډۍ او پر ټرمپ نیوکې؛
# ډیلي میل: بې باوره ټرمپ نور هم خپل باور له لاسه ورکړی

۳

## اردیرن: په نیوزیلنډ کې کرونا ویروس به بشپړه توگه له منځه تللی دی



د نیوزیلنډ لومړۍ وزیرې جسیندرا اردیرن تېره ورځ اعلان وکړ چې په هېواد کې یې د کروناویروس خپرېدل له منځه وړي او دا ویروس هلته ختم شوی دی. دا په داسې حال کې ده چې د اردیرن تر اعلان څو ساعته مخکې د نیوزیلنډ د روغتیا د برخې مشرې اشلي بلومفیلډ په یوې اعلامیې کې وویل چې په کروناویروس د اخته کس له رغېدو وروسته د کوم کس د اخته کېدو او نه اخته کېدو پېښه ثبته شوې نه ده. هغې وویل چې په هېواد کې یې د کروناویروس وروستۍ پېښه ۱۷ ورځې مخکې ثبته شوې او دا د فبرورۍ له ۲۸ نېټې وروسته نوې پېښې وه. د دغه هېواد د روغتیا د برخې مشرې بلومفیلډ وویل: «دا د کروناویروس د مخنیوي په لاره کې زموږ تر ټولو غټه لاس ته راوړنه ده، خو د ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره به احتیاطي اقدامات روان وي.» په همدې حال کې د یاد هېواد لومړۍ وزیرې ویلي چې په هغه نیوزیلنډ کې د کرنتین یوه بله درجه هم کموي چې په ترڅ کې به یې په عمومي غونډو باندې محدودیتونه هم له منځه ځي، خو د ماسک ترل به جبري وي. دا په داسې حال کې ده چې د نړۍ په ډېریو هېوادونو کې کرونا ویروس لاهم د پراختیا په حال کې دی. د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۷.۱۴ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله ۴۰۷ زره او ۳٦۷ کسان مړه شوي، نږدې دری نیم میلیونه بېرته رغېدلي او امریکا بیا د دغه ویروس د زیاتو مثبتو پېښو او مړو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی.

## سټولټنبرگ: هڅه کوو چې له روسیې سره د وسلو د کنټرول پر سر هوکړې ته ورسېږو

د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرگ ویلي، ناټو هڅه کوي چې له روسیې سره د وسلو د کنټرول پر سر یوې هوکړې ته ورسېږي. د نوموړي دغه څرگندونې داسې مهال دي چې نږدې یو کال وړاندې د روسیې ولسشمر ویلادیمیر پوتین رسماً اعلان وکړ چې هېواد یې د منځني واټن ویشتونکو توغندیو له تړونه وځي. نوموړي وویل چې دا اقدام یې د دې لپاره وکړ چې امریکا څو ځله دغه تړون نقض کړی دی. د پوتین له دغه اعلان وروسته د امریکا او روسیې ترمنځ د بالیستیک توغندیو او اټومي وسلو د سیالۍ ډېروالي اندېښنې راپارولي دي. سټولټنبرگ زیاته کړې: «موږ له روسیې په دې اړه خبرې کوو، موږ هڅه کوو چې له دغه هېواد سره اړیکې جوړې کړو او د وسلو د کنټرول پر سر یوې هوکړې ته ورسېږو». هغه زیاته کړې چې د وژونکو وسلو د جوړولو لپاره ورځ تر بلې ډېرېدونکې سیالۍ نړۍ له جدي گواښ سره مخ کولای شي. د یادونې ده چې نږدې لس کاله وړاندې د امریکا متحده ایالتونو او روسیې هوکړه وکړه چې د منځني واټن ویشتونکو توغندیو او اټومي وسلو پر سیالي به پای ته رسوي او د دغه ډول وسلو له جوړولو به ډډه کوي، خو په دې وروستیو کې یاد تړون بېرته له منځه ولاړ.


## تاجران: اگر حکومت راه های پاکستان را بروی صادرات کشور باز نکند، مالیات را نمی پردازیم



شماری تاجران میوه های تازه هشدار میدهند که اگر حکومت راه های پاکستان را بروی صادرات کشور باز نکند، مالیات شان را نخواهند پرداخت و دست به مخالفت های قانونی در برابر حکومت خواهند زد.
این تاجران در نشستی با معاون سفارت امریکا در کابل میگویند که پاکستان راه های صادراتی اش را بروی میوه های افغانستان بسته است و آنان با شکایت های مکرر به حکومت تا کنون هیچ اقدامی در این بخش نشده است. آنها حکومت افغانستان را درحل مشکلات شان با پاکستان ناتوان میدانند.
اینها تاجران میوه های خشک، سبزی ها ومیوه های تازه هستند که به گفته شان پس نا امید شدن از درِ حکومت، ناگذیر شده اند برای بازشدن راه های پاکستان بروی صادرات کشور، شکایت هایشان را به سفارت امریکا برسانند.
شماری از بازرگانان کندهار در این میان میگویند که به خواست حکومت از کشت کوکنار دست کشیدند و بجای آن باغ های میوه شاندند، اما اکنون میوه هایشان مصارف کشت را بدست نمیدهد.
سردارمحمد رئیس اتحادیه بازرگانان میوه ها وسبزی های تازه کندهار گفت: «اقتصاد ما به صفر رسیده است. حکومت توجهی نمی کند. ما چی کار کنیم.»
عبدالاحد رئیس اتحایده بازرگانان میوه های خشک در ولایت کندهار گفت: «برای ما در افغانستان نزدیک به سی تا چهل هزار تن مواد کهنه مانده است که از فصل پیشین است.»
سید یاقوت شاه بازرگان گفت: «بعد از این حکومت می داند و این مشکل. ما مالیات نخواهیم پرداخت و نه گمرکات و اسناد آن را تکمیل می کنیم. ما را بگذارد با پاکستان، هرکاری که کردیم.»


## ژوند

## د زړه ناروغي له څه شي پیدا کېږي؟



په امریکا کې د زړه ناروغۍ د وقایې مرکز وایي، د زړه ناروغي د ښځو د مړینې اصلي لامل ده. دغه مرکز وایي، په هرو څلورو مړو شویو ښځو کې د یوې د مړینې لامل د زړه ناروغي ده. دغه محاسبه د نارینه‌وو لپاره هم صدق کوي او د نارینه‌وو په مړینه کې هم د زړه ناروغي له پامه نه شي غورځول کېدای. د امریکا د زړه ناروغۍ د وقایې مرکز وایي، په ټوله نړۍ کې یوازې ۵۴ سلنه ښځې دې پېښې ته متوجې شوې دي. ایا تر اوسه مو په دې اړه فکر کړی چې د زړه ناروغي څه ډول ناروغي ده؟ د زړه ناروغي ټولو هغو ناروغیو ته ویل کېږي چې په زړه پورې اړوندې وي، نه یوازې د زړه په سکتې پورې.

## د سبزۍ گټې!



که غواړئ چې سالم مغز ولرئ، نو مېوې او سبزۍ وخورئ. یا په بل عبارت، څومره چې په زیاته کچه مېوې او سبزۍ خورئ، په هماغه کچه به مو مغز هم سالم او تازه وي. په څېړنو کې ثابته شوې، هغه کسان چې هره ورځ مېوه خوري، د نورو په پرتله سالم مغز لري. څېړونکو په لندن کې پر ۱۴ زرو کسانو چې ۴۴ سلنه یې نارینه او ٥٦ سلنه یې ښځې وې، د ١٦ کلونو په موده کې څېړنه کړې، چې پایلې یې د BMJ Open مجلې خپرې کړې دي. دې څېړنې ثابته کړې چې په لندن کې ۸۴ سلنه خلک سبزي او مېوه کاروي. څېړنې دغه راز په گوته کړې چې د المان ٦٦ سلنه خلک له ښې روغتیا برخمن دي او عمده لامل یې هم د مېوې او سبزۍ ډېر خوراک دی. څېړنو ښودلې، هغه کسان چې له مېوې او سبزۍ څخه په کافي اندازه گټه نه اخلي، د مغز فعالیتونه یې هم ډېر ښه نه دي او پر الزایمر ناروغۍ د اخته کېدو له گواښ سره مخ دي. په ټوله کې سبزي او سابه د انسان د روغتیا لپاره خورا گټور دي.

ماسټر ډېټ کارټ
د عزیزي بانک ماسټر ډېټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداگریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank